هفته‌نامه
آبادي اوونيزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
شنبه، د رجب المرجب ۱۵مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۳۶
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

## سرلیکنه



# د کابل- جلال آباد دوهم سړک؛ سوداګري به لا وغوړيږي

د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند په مشرۍ، د روان لمريز کال د سلواغې مياشتې په دريمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د کابل - جلال آباد د دوهم سړک جوړولو پروژه منظوره شوه. د ټولګټو وزارت ته لارښوونه وشـوه، څو دغه پروژه د آزادې داوطلبۍ له لارې اعلان ته وسـپاري او د سړک جوړونې د ټولو معيارونو په نظر کې نيولو سره وړ شرکت انتخاب کړي.

که د نړۍ اقتصادي پرمختګونو ته ځير شـو، دا به راته جوته شي چې لويې لارې او سـړکونه د هېوادونـو د اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي او سـياسي پرمختګ له پاره تر ټولو مهم او اسـاسي ټکي ګڼل کېږي. ځکه له دې لارې د بشر هر ډول اړتيـاوې پوره کېـږي. موږ او تاسـو پـر دې پوهېږو چې سوداګريزې او ترانزيټي لارې له يوې سيمې بلې ته او له يوه هېواده بل ته د توکـو ترڅنګ د وګړو د لېږد له پاره هم زمينه برابروي. دغه برخه په يوه هېواد کې هومره اهميت لري لکه څومره يې چې د انسان په بدن کې د وينې رګونه لري. همدا سړکونه او لويې لارې دي چې کولای شي د هېواد اقتصاد په پښـو ودروي او هېواد له دې پلوه د ترقۍ اوج ته ورسـوي. د افغانستان جغرافيايي موقعيت داسې دی چې له مخې يې د اسـيا بېلا بېل هېوادونه يو له بل سره تړل کېدای شي، نو له دې امله د لويو لارو او سړکونو جوړول کولای شي د هېواد په اقتصادي وده او د سـوداګرۍ په پراختيا کې مهم رول ترسره کړي. په کار ده چې په هېواد کې ددې مهمې زېربنا جوړولو ته پوره پاملرنه وشي.

اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره سياست له مخې د لويو لارو او سړکونو جوړولو ته زياته پاملرنه کړې ده. که موږ او تاسو وګورو په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې اسلامي امارت د لويو لارو جوړولو په برخه کې پرېکنده ګامونه اوچت کړي دي. د کابل- کندهـار، کندهار- ارزګان، هرات – غور، تخار- بدخشـان او سـالنګونو لويو لارو رغونه او تر څنګ يـې له مرکزونو څخه ولسـواليو ته د يو شمېر غځېدلو سړکونو رغونه يې ښه مثالونه دي. اسلامي امارت په دې هم بسنه نه ده کړې او د واخان په څېر د يوه مهم سړک چې کولای شي افغانستان له چين سره ونښلوي، د جوړولو چارې پيل کړې دي. اوس دادی د کابل- جلال اباد دوهم سـړک د جوړولو پروژه ده چې منظوري يې اقتصادي کمېسـيون ورکړه. ددې لارو پـه جوړېدو سره به افغانسـتان له خپل مهم جغرافيايي موقعيت څخه پوره ګټه پورته کړي او پـه برکت به يې د هېواد د اقتصادي پرمختګ ترڅنګ زموږ سوداګري هم پراختيا ومومي.

## اقتصادي کمېسيون د کابل - جـلال آباد د دوهم سړک جوړولو پروژه تاييد کړه



۲ مه صفحه

## نشست کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی برگزار شد



۳ مه صفحه

## د کورني صنعت د پرمختګ په برخه کې د سپين زر شرکت رول ته کتنه



۴ مه صفحه

# اقتصادي کمېســـیون د کابل – جلال آباد د دوهم ســـړک جوړولو پروژه تایید کړه



د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په درېیمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د حق العبور په بدل کې د کابل - جلال آباد د دوهم سرک جوړولو پر پروژې، د مازادو او خوراکي غنمو د پېرلو پر تګلارو، د کابل ولایت په ختیځه سیمه کې د برېښنايي دروازو د کمپلېکس پر جوړولو او یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو.

په غونډه کې چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تر هراړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د ټول پلازا/حق العبور په بدل کې د کابل – جلال آباد د دوهم سرک جوړولو پروژه منظوره ده. په همدې موخه ټولګټو وزارت ته لارښوونه وشوه څو دغه پروژه د آزادي داوطلبۍ له لارې اعلان ته وسپاري او د سرک جوړونې د ټولو معیارونو په نظر کې نیولو سره وړ شرکت انتخاب کړي. همدا راز یاد وزارت ته هدایت وشو چې د حق العبور په بدل کې د سالنګ لویې لارې لپاره جوړ شوی طرزالعمل دې پر دغه پروژه هم تطبیق کړي.

په غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د مازادو غنمو او د امارتي مرکزي سیلو شرکت له لوري د خوراکي غنمو د پېرلو په اړه پر جوړو شوو تګلارو بحث وشو. تر هراړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت وړاندې شوې تګلاره تایید او د منظورۍ لپاره د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام دفتر ته راجع شوه. د دغه تګلارې له مخې به د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د بزګرانو د ملاتړ په موخه د غنمو د حاصلاتو په موسم کې په مناسبه بیه غنم پېري او د اړتیا پر مهال به یې د بیو د کنټرول او احتکار د مخنیوي په موخه بازار ته وړاندې کوي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د کابل ولایت په ختیځه سیمه کې د برېښنايي دروازو د کمپلېکس جوړولو طرحه هم منظوره شوه. د دغه طرحې پر اساس به خصوصي سکتور د لسو کلونو لپاره د عامه – خصوصي مشارکت له لارې پانګونه کوي، چې د لومړیو دوو کلونو پر مهال به ۵۱ سلنه او له درېیم تر لسم کال پورې به ۹۰ سلنه عواید دولت خزانې ته جمع کېږي.

## ملا عبدالغنی برادر آخند در گردهمآیی که جهت ایجاد اداره مستقل شرکت های امارتی تحت محوریت واحد تدویر گردیده بود، سخنرانی نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در همایشی که به هدف ایجاد اداره مستقل شرکت های امارتی تحت محوریت واحد به اساس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله جهت مدیریت سالم، افزایش عواید، جلوگیری از انحصار و احتکار، اول دلو سال روان در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، تدویرگردیده بود، اشتراک نمود.

در این همایش که شماری از اعضای کابینه، رؤسا و اعضای شرکت های امارتی اشتراک نموده بودند، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سخنان خویش، ایجاد این اداره را مهم توصیف نموده گفت که فعالیت های تصدی ها و شرکت های دولتی در افغانستان بسیار تأثیر گذار بود. تا دهه اخیر قرن گذشته قمری شرکت های دولتی الی ٦٠ فیصد بودجه ملی را تأمین می نمود و کیفیت خدمات آن نیز نسبت به سکتور خصوصی بلند بود. محترم ملا صاحب افزود:"خدماتی را که سکتور خصوصی از انجامش عاجز می ماند، شرکت ها و تصدی های دولتی آنرا به شکل

مسلکی و با قوت انجام میداد." معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، بدبختانه بعد از آن در کنار سایر بخش ها شرکت ها و تصدی های دولتی نیز صدمه دید. در طول ۴۰سال گذشته هیچ کس سر خود را به این شرکت ها هم پیش نکرد.

محترم ملا صاحب در اشاره به دوباره فعال شدن بسیاری از شرکت های دولتی از سوی امارت اسلامی گفت، با حاکمیت امارت اسلامی در اثر سعی و تلاش وزارت مالیه اکثریت شرکت ها دوباره فعال و در عواید آنها افزایش قابل ملاحظهٔ آمده است. به گفته محترم ملا صاحب، علت حالت ناگوار شرکت های دولتی در گذشته مدیریت ناسالم این شرکت ها از سوی اشخاص و افراد بود. در حالیکه در جهان شرکت های دولتی و غیر دولتی از طرف بورد ها و کمیته ها رهبری می شوند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء ایجاد اداره مستقل شرکت های دولتی را رسیدن به این هدف خوانده افزود، که بر اساس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله اکنون تمامی شرکت های دولتی زیر یک چتر واحد خواهد آمد که امور آن به شکل درست و مثبت پیش خواهد رفت.

قابل یادآوری است، که این اداره جهت هماهنگی بهتر شرکت های امارتی، مدیریت سالم امور و جلوگیری از انحصار و احتکار به اساس فرمان شماره ۲۱ عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله ایجاد می گردد. به گفته اشتراک کننده‌گان این مجلس برای پیشرفت اقتصادی کشور مفید واقع می شود و با آن سطح عواید ملی بلند خواهد رفت.



# نشست کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی برگزار شد





نشست نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی که به تاریخ چهارم دلو سال روان در قصر مرمرین تدویر گردیده بود، طبق آجندا در مورد شماری از طرح های سرمایه گذاری که از سوی سکتور خصوصی پیشکش شده بود بحث شد. در این نشست بعد از بحث همه جانبه طرحه اعمار مارکیت تجارتی در ناحیه اول شهر کابل در زمین مربوط به وزارت اطلاعات و فرهنگ که از سوی سکتور خصوصی پیشکش گردیده بود با در نظر داشت تعدیلات آمده از سوی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی تائید و جهت منظوری به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

همچنان در جلسه طرح‌های تولید برق آفتابی به ظرفیت ۴۰ میگاوات در پارک صنعتی حصار شاهی ننگرهار، ایجاد کمپلکس تفریحی در ساحه بام هرات ولایت هرات، اعمار مراکز معیاری لابراتوارها در شفاخانه های شیخ زاید و حوزوی جلال آباد و همچنان اعمار فابریکه بزرگ تولید مواد خوراکی در شهر کابل از سوی سکتور خصوصی پیشکش گردید، که بعد از بحث همه جانبه به کمیته های مؤظف وظیفه داده شد تا با در نظرداشت نظریات کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی زوایای مالی، اقتصادی و تخنیکی طرح های یاد شده را با شرکت های ارایه کننده آن ارزیابی و همچنان در مورد سپردن زمین و وقت قرارداد ها نشست تخنیکی را دایر و گزارش خویش را در وقت تعیین شده ارایه دارد.

## در شهر کابل تا اکنون
# ٤٨٩٤١ گدا
## جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۸۹۴۱ گدا تا ۳ دلو سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۸۹۰ زن، ۷۷۴۰ مرد و بقیه ۲۶۳۱۱ طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۷ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

هفته‌نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# د کورني صنعت د پرمختګ په برخه کې د سپین زر شرکت رول ته کتنه

لیکوال: فضل ولي شیراني



غښتلی صنعتي سکټور د یوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کېستره ونده لري، له اقتصادي پلوه هغه هېوادونه چې نن سبا په نړۍ کې پرمختللي دي، هغه د خپل صنعتي سکټور په غښتلي کولو سره دې ځای ته رسېدلي دي؛ نو که وروسته پاتې او مخ پر ودې هېوادونه غواړي خپل اقتصادي پرمختګ چټک کړي، دوی باید د خپل صنعت د پرمختګ له پاره پرېکنده ګامونه پورته کړي. مخ پر ودې هېوادونه پرېمانه اومه مواد او طبیعي سرچینې لري، خو دا چې صنعت یې کمزوری دی، له همدې امله خپل اومه مواد پرمختللو هېوادونو ته صادروي او هلته دغه اومه مواد په صنعتي توکو بدل او بېرته په همدې هېوادونو په لوړه بیه پلورل کېږي. که یو هېواد هر څومره خام مواد او منابع ولري، خو چې په تولیداتو د دغو سرچینو د بدلولو ځواک او وړتیا ونه لري، نو بیا به هم نورو ته محتاج او اړ وي. د صنعت په پښو درول ددې کار مخنیوی کوي او یوه ټولنه یا هېواد د اقتصادي ځان بسیاینې او خپلواکۍ پر لوري بیایي. اسلامي امارت د صنعت ارزښت ته په کتني سره په دې شاوخوا دوو کالونو کې د صنعتي فابریکو د فعالولو په برخه کې د خصوصي سکټور بشپړ ملاتړ کړی او له دې امله اوس مهال د افغانستان په کچه یو زیات شمېر فابریکې فعالې شوې او ښلا ښل توکي تولیدوي. ددې ترڅنګ اسلامي امارت ۱۳ هغه دولتي شرکتونه هم بېرته فعال کړي دي چې تر دې مهاله یې چارې په ټپه ولاړې وې. په دې شرکتونو کې یو هم د کندوز سپین زر شرکت دی. دا شرکت د لومړي ځل له پاره په ۱۳۱۴لمریز کال کې د شمال شرکت په نوم جوړ شو. له دې څخه جوته شوه چې په افغانستان کې د ماشیني صنعت تاریخچه اوږده ده. موږ غواړو په دې لیکنه په افغانستان کې د صنعت تاریخچې، کندوز سپین زر شرکت او د صنعت پر ودې ددې شرکتونو اغېزو ته لنډه کتنه وکړو.

## په افغانستان کې د صنعت تاریخچه

په افغانستان کې صنعت او صنعتي فابریکې او شرکتونه و او فعالیت یې کاوه، خو له کله نه چې په هېواد کې سیاسي کړکیچونه او بهرني تاړاکونه رامنځته شول، دا هر څه یې له منځه یوړل او تش میدان ته یې کینولو. په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د امیر دوست محمد خان په وخت کې له ماشیني صنعت څخه کار واخیستل شو. دا مهال په کابل کې د وسلو جوړولو یوه فابریکه جوړه شوې وه چې پر افغانانو سربېره هندي او ایراني متخصصانو هم کار پکې کاوه. تر امیر دوست محمد خان وروسته د امیر شیرعلي خان په واکمنۍ کې د ټوپک جوړولو تر څنګ د یو شمېر توپونو جوړول هم پیل شول او د دې تر څنګ د چاپ ماشین هم کابل ته راوړل شو چې د شمس النهار اخبار او یو شمېر کتابونه، پوستي ټکټونه او دولتي فرمانونه به یې چاپول، خو دا هر څه د انګرېزانو له دویمې جګړې سره ډېر زیانمن او له ځنډ او ځنډ سره مخامخ شول. کله چې ۱۸۸۰ مېلادي کې عبدالرحمن خان واک ته ورسېد، د لرغونو ماشینونو له فعالولو پرته یې په کابل کې د علم ګنج په نوم ماشین خانه جوړه کړه چې عسکري وسایل پکې جوړېدل او له دې پرته یې سل لوی او واړه ماشینونه درلودل چې چاپ یې کاوه او صابون، شمعې او نور تولیدات یې درلودل په دې کار خونو کې ۵۰۰۰۰ تنو کار کاوه. له هغه وروسته د امیر حبیب الله خان په دوره کې ماشیني صنعت لا وده وکړه، په ۱۹۰۶مېلادي کال کې د څرمنو او بوټانو فابریکه فعاله شوه او د وړینو منسوجاتو فابریکې هم په کار پیل وکړ. د جبل السراج د برېښنا د فابریکې بنسټ کېښودل شو، دا وخت د صنعتي کارېګرو شمېر شاوخوا ۵۰۰۰۰ تنه وو. کله چې امان الله خان د هېواد د خپلواکۍ اعلان وکړ، د ټولنیزو، سیاسي، فرهنګي او اقتصادي چارو تر څنګ یې د صنعت پیاوړتیا ته هم ډېر پام وکړ. د ده د واکمنۍ په دوره کې د برېښنا د تولید، مطبعو، د سمنټو صنعت، بورۍ، ګوګړو، کاغذ جوړولو، ښیښې جوړولو، غوړیو، د مېوو د کنسروا کولو او نور ماشینونه واخیستل شول او هېواد ته یې راوړل. خو کله چې حبیب الله کلکاني (د سقاو زوی) د واک په ګدۍ کیناست، ټولې صنعتي چارې په ټپه ودرېدې. بیا چې محمد نادر خان واک ته ورسېد او هغه یې له واکه لرې کړ، نوموړی پر دې بریالی شو چې ټولې هغه صنعتي دستګاوې بېرته فعالې کړي چې چارې یې په ټپه ولاړې وې. ددې ترڅنګ یې یو شمېر نوي ماشینونه هم هېواد ته را وارد کړل. د صابون‌جوړولو د فابریکې بنسټ یې کېښود، د موټر د ترمیم فابریکه یې را منځ ته کړه، د ترکاڼۍ فابریکه یې هم جوړه کړه او همدارنګه په جبل السراج کې د ټوکر اوبدلو فابریکې هم په کار پیل وکړ. وروسته بیا د محمد



ظاهر شاه او سردار محمد داود خان د واکمنيو پر مهال د هېواد صنعتي کېدو ته ډېره پاملرنه وشوه او له بېلابېلو هېوادونو څخه سپک او درانه ماشينونه راوړل شول، په کابل او نورو ولايتونو کې يې پر فعاليت پيل وکړ، خو پر افغانستان لومړی د شوروي او بيا د امريکا د يرغل پر مهال افغانستان دا هر څه بايلل او په تش ډاگ وچه خوله کښېناست او د ډېرو فابريکو هغه که دولتي وې يا يې هم په خصوصي سکتور پورې تړاو درلود، ماشينونه او وسايل يې د کباړ په ډول وپلورل شول او يادې فابريکې، دولتي شرکتونه ويجاړ او شته صنعت مو په ټپه ودرېد. د افغانستان اسلامي امارت په راتگ سره د خصوصي سکتور له لورې د صنعت په برخه کې د ترسره شويو فعاليتونو ترڅنگ ۱۳ هغو دولتي شرکتونو هم پر فعاليت پيل وکړ چې چارې يې په ټپه درېدلې وې. په دې شرکتونو کې يو هم د کندوز سپين زر شرکت دی.

## سپين زر شرکت

د کندوز سپين زر دولتي شرکت د هېواد په شمال د کندوز په ولايت کې موقعيت لري او شمال ختيځ زون کې فعاليت کوي. سپين زر شرکت په ۱۳۱۴لمريز کال کې د شمال شرکت په نوم جوړ شو. په ۱۳۲۵لمريز کال کې د بانک ملي په نوم ونومول شو. له هغه وروسته په ۱۳۲۹ لمريز کال کې د نساجي شرکت نوم ورکړل شو. په ۱۳۳۵ لمريز کال د پنبه دانې اتحادي شرکت او په ۱۳۳۹ لمريز کال کې يې نوم سپين زر شرکت شو. له ۱۳۶۲ څخه تر ۱۳۹۹ لمريز کال پورې يې د تصدی په توگه فعاليت کاوه، په ۱۴۰۰ لمريز کال کې يې د قانوني شخصيت بدلولو بهير بشپړ او يو دولتي شرکت شو. په ۱۳۵۷لمريز کال کې د ۱۰۰۰۰۰ ټنو پنبه دانې په پيرلو او پروسس سره پر دې وتوانيد چې ۳۰۰۰۰ ټنه پنبه، ۷۰۰۰ ټنه غوړي او درې ميليونه کلچې صابون توليد کړي چې دا د سپين زر شرکت په تاريخ کې تر ټولو زيات توليد و. پر افغانستان د شوروي او بيا د امريکا د يرغل له امله د نورو زيربناوو د ويجاړېدو ترڅنگ ددې شرکت چارې هم په ټپه ولاړې وې. خو واک ته د اسلامي امارت له رسېدو را وروسته ډېری هغه دولتي شرکتونه بېرته فعال شوي چې له دې مخکې يې فعاليت په ټپه درېدلی و. د افغانستان اسلامي امارت  ياد شرکتونه په اساسي ډول رغولي او ټولې هغه ستونزې يې له منځه وړې دي، چې د دوی د فعاليت پر وړاندې خنډ و. په دې شرکتونو کې سپين زر دولتي شرکت هم راځي. دا مهال ياد شرکت پنبه، نباتي غوړي، کنجاره، د ځان او کاليو مينځلو صابون، کاغذي دستمالونه، د پخلنځي رولونه، موسمي يخ او ۲، ۳، ۵ ليټره بوتلونه په لوړ معيار توليدوي.

## سپين زر شرکت او د صنعت پر وده يې اغېزې

دولتونه بايد د خپل کورني صنعت د ساتلو او ژغورلو په موخه يو لړ اقدامات وکړي. دا چې نن سبا نړيواله سوداگري د يو اصل په توگه ټولو هېوادونو منلې ده، ځکه خو نور هېوادونه له يوه هېواد څخه په وارېدونکو توکو بشپړ بنديز نه شي لگولای، خو پر بهرنيو وارداتي توکو له بشپړ بنديز پرته داسې ډېرې لارې چارې شته چې په پايله کې يې کورني صنعتونه وده کولای شي. له دې لارو چارو څخه يوه هم په کور دننه صنعت ته وده ورکول دي. د صنعت وده کولای شي د بې کارۍ کچه راټيټه او د روزگار نوي فرصتونه رامنځ ته کړي. د صنعت سکتور د عامو کارگرو تر څنگ د ټولنې بېلابېلو وگړو ته د کار زمينه برابروي، ځکه په دغه سکتور کې بېلابېلو مسلکي او متخصصو وگړو ته اړتيا پېښېږي، تر څو په مسلکي ډول اړوند کارونه پر مخ بوځي. د ډېرې مخ پر ودې هېوادونو ټول توليد د کرنې په سکتور پورې اړه لري، ددې هېوادونو ډېری وگړي په کليوالي سيمو کې ژوند کوي او يواځينی کسب او کار يې کرنه او بزگري ده. دا چې د دغو هېوادونو نفوس په چټکۍ سره وده کوي او د کرنيزې ځمکې مقدار ثابت دی، د وېش په وخت کې هر وگړي ته د ځمکې يوه محدوده حصه ور رسېږي، طبعاً سرې سر کلنی عايد را کمېږي. يا هم داسې وي چې د ځمکې په يوه محدوده برخه د يوې کورنۍ ټول غړي کار کوي، خو د ځمکې څخه ترلاسه حاصل دومره نه وي چې دې ټولو ته دې بسنه وکړي. دغه حالت ته په اقتصاد کې پټه بې کاري وايي. کله چې د يوه هېواد صنعتي سکتور پرمختگ کوي، نو دغه پټ بې روزگاره وگړي د کرنيز سکتور څخه صنعتي سکتور ته مخه کوي او په پايله کې يې د دا ډول پټې بې روزگارۍ او د کارگرو د نه مولديت مخه نيول کېږي. د دې



تر څنګ هغه صنعتي فابريکې چې خام مواد يې د کرنيز سکټور څخه تر لاسه کېږي د دې سکټور د لا پرمختګ لامل کېږي، ښه بېلګه يې د بورې، ټوکر، تېلو يا غوړيو او نورو صنعتونو له امله د چغندرو او ګنيو، پنبې، غوړ لرونکو دانو او نورو د کښت او کر زياتوالی او له دې لارې د بزګرانو د عايد لوړېدل په ګوته کولای شو. زمونږ د هېواد په ډېرى سيمو کې کرنه پايداره نه ده او ډېرى وخت د وچکالۍ او ځينو نورو لاملونو له امله بزګران زيات مالي زيانونه ويني، خو د دې سکټور په مقابل کې د صنعت سکټور بيا ثابت او پايښت لرونکی وي. که د صنعت ځينې برخه مو په کرنيزو خامو موادو متکي وي؛ نو په کور دننه د کرنيزو خامو موادو د نه شتون پر وخت د خپلې اړتيا وړ توکي له نورو سيمو او هېوادونو څخه هم اخيستل کېدای شي. اسلامي امارت د صنعت دې اهميت ته په کتو د صنعتي دولتي شرکتونو ترڅنګ د صنعت په برخه کې زياتې اسانتياوې برابرې کړې دي چې د سپين زر شرکت يې ښه بېلګه ده. په دې سره به په هېواد کې د صنعت پرمختګ ته لار هواره او هېواد به مو په لنډ وخت کې يو صنعتي هېواد شي.

## پا یله

افغانستان په تېرو شاوخوا څلورو لسيزو کې سخت زيانونه وليدل. د زېربناوو په ګډون يې د صنعت برخه هم له دې زيان څخه بې برخې پاتې نه شوه. د خصوصي سکټور له لوري د جوړو شويو صنعتي فابريکو ترڅنګ دولتي صنعتي تصدۍ او شرکتونه هم د همدې ناخوالو او جګړو په اور کې وسوځېدل. هرڅه يې له منځه ولاړل او ددې برخې فعاليتونه په بشپړ ډول ودرېدل. خو د اسلامي امارت په راتګ سره، د نورو برخو ترڅنګ د صنعت برخې ته پوره پاملرنه وشوه. د هېواد په کچه غير فعالې دولتي تصدۍ او شرکتونه يې بيرته فعال کړل. ددې شرکتونو د لا ښه پرمختګ، په سم ډول مديريت، ملي عوايدو لوړېدو، د انحصار او احتکار د مخنيوي په موخه د عالقدر امير المومنين شيخ صاحب حفظه الله له فرمان سره سم خپلواکه اداره رامنځته شوه. ددې شرکتونو په ډله کې يو هم د کندوز سپين زر دولتي شرکت دی. دغه شرکت له رغوني وروسته اوس مهال فعال دی او پنبه، نباتي غوړي، کنجاره، د ځان او کاليو مينځلو صابون، کاغذي دستمالونه، د پخلنځي رولونه، موسمي يخ او ۲، ۳، ۵ ليټره بوتلونه په لوړ معيار توليدوي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د دولتي شرکتونو د توليد کچه لوړ کړي، ددې شرکتونو د توليداتو په زياتوالي سره به له يوه لوري د هېواد په اقتصادي وده کې چټکتيا رامنځته شي او له بل لوري به په بازار کې سالم رقابت ته لار هواره شي. دغه دواړه چارې د هېواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې رغنده رول لوبولی شي.



# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۳,٦۰ | ؋۷۳,۷۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲٦۳ | ؋۲٦۳ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۷٥ | ؋۱,۷٥ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۹,۹٦ | ؋۸۰,۰٦ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۸۳ | ؋۰,۸۳ |
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۸٥ | ؋۸۸۷ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۹۳,٥٤ | ؋۹۳,٦۷ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۹,٦۳ | ؋۱۹,٦٥ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰٤ | ؋۲۰,۰۷ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱۰,۳۷ | ؋۱۰,۳۹ |

